مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اځر

۲۰۲۶/۰۹/۰۳

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(یودېرشمه برخه)

## پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۲۷)

## له څلورو هندي مهاجرو جنرالانو وروسته، د پاکستان د پوځ ستردرستیزان (۱)

د پاکستان څلور واړه کودتاچي جنرالان[1]: **ایوب خان، یحی‌خان، ضیاالحق او پرویز مشرف**، د پاکستان د جوړېدو پر مهال له هند څخه پاکستان ته تښتېدلي وو، سره له دې چې جنرال مشرف د پاکستان د جوړېدو پر مهال څلور کلن ماشوم ؤ خو پلار یې له هند څخه د تښتېدلیو په ډله کې ؤ.
دغو څلورو کودتاچي جنرالانو، د پاکستان د لنډکي تاریخ په اوږدو کې، نږدې نیم عمر پر پاکستان د ولسواکۍ پر ځای پوځي دیکتاتوري چلولې ده چې د دغه هېواد پر سیاسي او امنیتي برخه‌لیک یې ډېر ناوړه او ژور اغېز اچولی دی. نومورې څلور جنرالان د خپلو ناوړه کړنو له امله د ډېرو خلکو (پاکستانیانو) له‌خوا منفور او ملعون بلل شوي دي، د دغو څلورو جنرالانو د ژوند وروستي کلونه او مرګ (هغه که په هېواد کې دننه وو یا بهر) له سیاسي یوازیتوب، کړاوونو او ناهیلو سره مخ وو.
د پاکستان د کودتاچي جنرالانو، له وروستي پوځي دیکتاتور، جنرال مشرف څخه وروسته څلور تنه جنرالان د پاکستان د ستردرستیزانو په توګه ټاکل شوي دي، دا څلور تنه جنرال ټول پنجابیان دي چې د هر یو پر کړنو به لنډ مالومات وړاندې کړو:

## جنرال اشفاق پرویز کیانی: (له۲۰۰۷څخه تر۲۰۱۳ز. کال پورې.)

**اشفاق پرویز کیاني یو پنجابی جنرال دی چې د پنجاب په پوټوهر سیمه، په منګهوټ نومي کلي کې زیږدلی دی، هغه د (ګکړ کیانی) له قبیلې څخه دی.**
کیاني د ۱۹۷۱ز. کال د اګست په ۲۹مه نېټه د پاکستان پوځ د مشهور (بلوچ رجمنټ) په پنځم کنډک کې د دویم بریدمن په توګه وټاکل شو. هغه په ۱۹۷۱ز. کال کې د هند او پاکستان د جګړې پر مهال (چې د بنګال جګړه یې بولي) برخه اخیستې وه.

[1]: د پاکستان کودتاچي جنرالان په حقیقت کې ۵ تنه دي، لومړنی کودتاچي جنرال سېکندر میرزا ؤ چې هغه مهال د پاکستان لومړنی ولسمشر ؤ، هغه د جنرال ایوب خان په مرسته د لومړي وزیر فیروز خان نون ملکي حکومت او پارلمان ړنګ کړل خو جنرال ایوب خان لس ورځې وروسته پر جنرال سېکندر میرزا باندې بله کودتا وکړه او هغه یې له هېواده وشاړه. (د ډېرو مالوماتو لپاره ولولئ د لیکنو، ۴مه برخه)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

بنکاري چې کیاني د بنګال د جګړې پر مهال د هند او پاکستان پولې ته نږدې جګړه کړې وه او د ننه په بنګال کې نه وه جګړېدلی، که نوموړي د بنګال په جګړه کې برخه لرلای نو هغه به له هند سره د ۹۳زره پاکستاني پوځي اسیرانو په ډله کې وای.



(جنرال اشفاق پرویز کیاني او په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان جنرال استنلي ای. مککریستال.)

نوموړی جنرال په ۲۰۰۷ز. کال کې د جنرال مشرف لهخوا د پاکستان د پوځ د ستر درستیز په توګه ټاکل شوی ؤ، هغه د جنرال مشرف په څېر د امریکایانو پلوی او خدمتګار ؤ خو کله، کله به یې د امریکایانو د ځینو کړنو په غبرګون کې ځان ښودنه (نمایشي) غبرګون هم ښکاره کاوه.

«کله چې جنرال کیاني د پوځ د مشر په توګه وټاکل شو نو څو تنو لوړپوړو امریکايي چارواکو په پرلهپسې توګه له جنرال کیاني سره لیدنې کتنې پیل کړې چې په هغو کې د هغه مهال د سيآیآي مشر **(مایکل هایدن)** د ملي استخباراتو مشر **(مایک مککانل)** او د امریکا د متحده ایالاتو د مرکزي ځواکونو قوماندان **(ویلیم جي. فالون)** شامل وو، په پای کې هغوی په پوره ډاډ سره ووېل:**«کیاني پوهېږي چې څه کوي.»**[2]

جنرال کیاني د پښتنو په قبایلي سیمو کې د وسلهوالو پر وړاندې، له ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۱۳ز. کال پورې سختې جګړې وکړې او هغه سیمې لکه:**(دیر، بونیر، شانګله، سوات او جنوبي وزیرستان)** چې د جنرال مشرف د واکمنۍ پر مهال وسلهوالو پښتنو نیولې وې، بېرته ونیولې خو کیاني ونه شول کولی شمالي وزیرستان ونیسي. پاکستاني پوځ، جنوبي وزیرستان وروسته له هغې کلابند کړ چې د ۲۰۰۹ز. کال د جون په ۱۶مه نېټه یې په سوات دره کې د ټيټيپي پر وړاندې بریالي عملیات وکړل او ټولې هغه سیمې یې بیا ونیولې چې پخوا وسلهوالو پښتنو نیولې وې.

په جنوبي وزیرستان کې د جنرال کیاني په مشرۍ، د پوځ تر ټولو لوی پوځي عملیات چې **(د ژغورنې لار)** په نوم نومول شوي وو، د ۲۰۰۹ز. کال په اکتوبر کې، په داسې حال کې پیل شول چې د ټيټيپي بنسټ ایښودونکی **(بیت الله مسید)**، نږدې دوه نیمې میاشتې وړاندې، د ۲۰۰۹ز. کال د اګست په ۵مه نېټه، د امریکايي بېپیلوټه الوتکې په یوه برید کې وژل شوی ؤ.

د اګست په ۵مه نېټه، د بیتالله مسید او د هغه پر کورنۍ باندې د امریکا د CIA لهخوا د بېپیلوټه الوتکې برید ترسره شو. **بیت الله مسید، د هغه خسر او مېرمن په دغه برید کې ووژل شول.**[3]

پاکستاني پوځ مخکې هم درې ځله، په ۲۰۰۴، ۲۰۰۵ او ۲۰۰۸ز. کلونو کې د طالبانو دغه مشر په نښه کړی ؤ خو هر ځل یې له هغه سره د زیانآړونکو د سولې تړونونو له لاسلیک کولو وروسته عملیات پای ته رسولي وو. دغو تړونونو یوازې د ټيټيپي، د لا پیاوړي کېدو لاره هواره کړې وه.[4]

---

2: https://www.washingtonpost.com/wp-dyn/content/article/2011/01/30/AR2011013004136.html?hpid=topnews

3:https://www.bloomberg.com/apps/news?pid=20601080&sid=a70i71cV_cQg

4:https://web.archive.org/web/20090619021505/http:/www.time.com/time/world/article/0,8599,1904905,00.html


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**د ۲۰۰۹ز. کال د اکتوبر په ۱۷مه نېټه، په جنوبي وزیرستان کې تر ۲۸،۰۰۰ پلي او هوايي پاکستانیو ځواکونو برخه لرله.**[5] چې دا مهال، د ټيټيپي مشري حکيم‌الله مسيد کوله.

د پاکستان هوايي ځواک (PAF) جنګي الوتکو، په ځانګړي توګه F-16 او JF-17 الوتکو چې د ځانګړي خدمت وزر (SSW) د ځلورم SOS سکواډرن غړو له خوا يې الوتني ترسره کېدې، د جنوبي وزيرستان سيمي په پراخه کچه بمبار کړي خو د وسله‌والو پټنځايونه ويجاړ کړي.[6]
په دغو ځواکونو کې د امريکا له خوا روزل شوی د پاکستان پوځ ۵۰مه هوايي ډويژن [فرقې]، د XI Corpsاړوند ۷مه او ۹مه پياده فرقه او د پوځ د احتياطي مرکز ۴۰مه پياده فرقه شامله وه .
د جنوبي وزيرستان د کلابندۍ په موخه د پاکستان ځکمني، سمندري او ځانګړي ځواکونه نيمه شپه، پر سيمه باندې په پراشوټونو کې له هوا ښکته شول.
جګړه نږدې دوه مياشتې روانه وه چې پاکستاني پوځ د ۲۰۰۹ز. کال د ډسمبر په ۱۲مه نېټه اعلان وکړ چې په بريالی توګه جګړه پای ته رسېدلې او ټول جنوبي وزيرستان يې د حکومت تر کنټرول لاندې راوستی دی. خو د طالبانو له لوړپوړو مشرانو څخه هېڅ يو په دغو جګړو کې ونه وژل شو او نه هم ونيول شو. د طالبانو مشرتابه مخکې له هغې چې ونيول شي يا په جګړو کې ووژل شي، خپل مرکزونه يې پرېښيي او له ډيورند کرښې اوښتي وو. «د پاکستان هوايي ځواک، چورلکو او جګړه‌ييزو الوتکو د بمباريو له امله ټيټيپي او مشرتابه يې اړ شول غرونو ته په شا شي.»[7]

په دغه جګړه کې طالبانو او پاکستاني پوځ ته ډېره مرګـژوبله ورسيده **«د ځمکنيو عملياتو پر مهال ۵۹۴ طالب وسله‌وال او ۸۰ تنه پاکستاني عسکر ووژل شول. همدارنګه ۲۴۳ پاکستاني پوځيان ټپيان او ۸۳ وسله‌وال ونيول شول.»**[8]

پورته شمېرې د پاکستاني پوځ لخوا خپرې شوي دي او په خپلواکه توګه نه دي تاييد شوي، سره له دې چې پاکستاني پوځ د امريکايانو په مرسته پر ټيټيپي جګړه‌مارو باندې سختې هوايي بمباري کولې خو بيا هم، شوني ده چې د پاکستاني پوځ مرګـژوبله هم لوړه او د ټيټيپي د سر زيان، (لکه څرنګه چې پاکستاني پوځ ويلي دي) دومره زيات نه وي، په دې دليل چې پاکستاني پوځيان د يرغل په حالت کې وو او ټيټيپي وسله‌والو دفاع کوله، طبيعي ده چې د يرغل کوونکو د سر زيان ډېر او د مدافعينو مرګـژوبله لږه وي.

د بين‌الخدماتي عامه اړيکو اداري (ISPR) د ۲۰۰۹ز. کال د اکتوبر په ۲۰مه نېټه، په خپره شوې رسمي خبرپاڼه کې وويل چې د ۲۰۰۹ز. کال د اکتوبر په ۱۷مه د عملياتو له پيل څخه مخکې، د جنوبي وزيرستان ۱۱/۰۸۰ کورنۍ، چې ټولټال ۸۰،۰۰۰ کسان کېدل، د داخلي بې‌ځايه شويو وګړو (IDPs) په توګه ثبت شوی دی. دغه کسان د ټانک ولسوالی او ډېره اسماعيل خان ولسوالی د داخلي بې‌ځايه

[5] :https://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/8311927.stm
[6] :https://web.archive.org/web/20091018205312/http:/www.dawn.com/wps/wcm/connect/dawn-content-library/dawn/news/pakistan/07-curfew-imposed-in-south-waziristan-ahead-of-operation-ha-01
[7] :https://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/8312932.stm
[8] :http://www.dawn.com/wps/wcm/connect/dawn-content-library/dawn/the-newspaper/front-page/north-waziristan-poses-a-formidable-challenge-740


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

شویو وګړو کمپونو ته استول شوي وو. له پوځي برید وروسته بیا ټولټال ۴،۴۷۷ کورنۍ، چې شمېر يې ۴۱،۲۸۹ کسانو ته رسېده، ثبت شوې.[9] چې ټول کډوال ۱۵،۵۵۷کورنۍ او ۱۲۱،۲۸۹ کسان کېږي.

پاکستانی پوځ او ځینې نور وايي چې د عملیاتو موخه دا وه چې د طالبانو لوړپوړی مشرتابه له منځه یوړل شي او هغه سیمې چې د حکومت له کنټروله وتلې وې، بېرته د حکومت تر ولکې لاندې راوستل شي.

**ربښتیا دا دي چې د پاکستاني پوځ بنسټیزه موخه د القاعدې د مشرانو نیول او یا وژل وو تر څو وکولی شي په دې توګه له امریکایانو څخه ډېر ډالر ترلاسه کړي.** «په دې سیمه کې داسې باور کېده چې د القاعدې مشر اسامه بن لادن، د هغه نور لوړپوړي قوماندانان او د طالبانو مشران اوسیږي.»[10]
په داسې حال کې چې اسامه بن لادن د پاکستان د استخباراتو آی‌اېس‌آی د یوې ځانګړي اداري لهخوا د پاکستان په ابېټ آباد کې ساتل کېده. (د ډېرو مالوماتو لپاره ولولئ په په افغان جرمن آنلاین کې، د دې قلم لیکنه: د افغانستان جمهوریت د سقوط عوامل: د پاکستان رول. ۱۱ برخه.)

که له یوې خوا جنرال کیاني د کوزو پښتنو په سیمو کې د وسله‌والو پر وړاندې جګړه کوله، ورسره يې له ځینو وسله‌والو سره د سولې تړونونه هم کول. «د اکتوبر په ۲۰مه نېټه راپور ورکړل شو چې پاکستاني حکومت درې اوونۍ پخوا له هغو امریکا ضد وسله‌والو سره تړونونه کړي وو چې د طالبانو پخوانیو قوماندانانو مولوي نذیر او حافظ ګل بهادر يې مشري کوله، تمه کېده چې دغه تړونونه به د عملیاتو په بریا کې مرسته وکړي او امریکايي چارواکو هم ورسره مخالفت نه کاوه.[11]
بلې خوا د پاکستاني پوځ او جنرال کیاني منافقت او دوه‌مخی غولونکی سیاست ؤ چې د کوزو پښتنو په سیمو کې يې د ټي‌ټي‌پي وسله‌والو پر وړاندې له امریکایانو سره په ګډه جګړې کولې خو په افغانستان کې د امریکایانو او افغان حکومت پر وړاندې له مخالفو وسله‌والو ډلو (طالبانو) سره مرستې کولې چې دا ډول دوه مخي استخباراتي کړنو ته يې تر پایه دوام ورکړ.

جنرال کیاني هغه مهال تر سختو نیوکو لاندې راغی کله چې «د ۲۰۱۱ز. کال په جنوري کې، وروسته له هغې چې د سي‌آی‌اې یو تن کارکوونکي **(ریمونډ ډیویس)** دوه تنه بې‌ګناه پاکستانیان وژلي وو، له بنده خوشی کړ.
**ریمونډ ډیویس د لاهور په ښار کې دوه پاکستاني ځوانان په ډزو ووژل،** هغه ادعا وکړه چې هغوی غوښتل غلا ورڅخه وکړي او د ځان په دفاع کې يې وژلي دي.
**د پېښې په جریان کې د امریکا د قونسلګرۍ یل موټر چې د ډیویس د ژغورلو لپاره وررروان ؤ، یو بل بې‌ګناه پلی کس تر ټایرونو لاندې کړ او مړ شو.**
هغه وو چې «د ۲۰۱۱ز. کال د مارچ په ۱۶مه نېټه، ډیویس وروسته له هغې خوشې شو چې د وژل شویو کسانو کورنیو ته يې د اسلامي شریعت پر بنسټ د ۲.۴ میلیونه ډالر، د وینې بیه (دیت) ورکړ او په محکمه کې يې نوموړی امریکايي وبانبه.[12]

---

[9]:ISPR Update – 20 October 2009" *ISPR Press Release*, 20 October 2009
[10]:46 militants killed by Army in first Waziristan battle". *The Indian Express*. 21 June 2009. Retrieved 17 October 2009.
[11]:*Mahsud, Ishtiaq; Toosi, Nahal (20 October 2009). "Pakistan cuts deal with anti-American militants". Associated Press. Retrieved 20 October 2009.*[dead link]
[12]:https://www.bbc.com/news/world-south-asia-12757244


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په دې توګه جنرال کياني د بېګناه پاکستانيانو امريکايي قاتل ته د خلاصون لاره جوړه کړه او د هغه قاتل محاکمه په چټکۍ سره ترسره شوه، د قربانيانو خپلوانو ته د (ديت) په ورکولو سره د وژني له تور څخه خلاص شو او څو ساعته وروسته له پاکستان څخه وايستل شو.

پوهيږو چې له ډيورنډ کرښې ها خوا د پښتنو په سيمو چې د ټي‌ټي‌پي پر خلاف د امريکايانو لهخوا د بې‌پيلوټه الوتکو بريدونه کيږي، ټول د پاکستان د آی‌اېس‌آی د مالوماتو پر بنسټ ترسره کيږي، د امريکايانو د بريدونو په لړۍ کې د ۲۰۱۱ز. کال په جنوري کې «د شمالي وزيرستان د (دته‌خېلو) په سيمه کې له ۴۰ تنو زيات کسان د يوې امريکايي بې‌پيلوټه الوتکې په بريد کې ووژل شول، داسې ښکاريده چې د بريد موخه د تحريک طالبان يو مشر **(حافظ ګل بهادر)** ؤ. په وژل شويو کسانو کې سيمه‌ييز قبايلي مشران هم وو. د امريکا دغه بريد د خلکو کرکه او غبرګونونه راوپارول چې په ترڅ يې «جنرال کياني يوه خبري غونډه راوبلله او په هغې کې يې د امريکايانو بريد وغانده، تر دې چې هغه د پاکستان حکومت وهڅاوه په پاکستان کې د امريکا سفير **(کامرون مانټر)** احضار او تر سختو نيوکو لاندې راولي. کياني دغه بريد د نه زغملو وړ عمل وباله.[13]جنرال کياني د خپلې دندې پر مهال، د پاکستان د تېرو سترډستيزانو برعکس، د پاکستان پوځ له سياست څخه لرې وساته، هغه د ۲۰۱۳ز. کال په نومبر کې تقاعد شو او پر ځای يې جنرال راحيل شريف د پاکستان د پوځ د لوی درستيز په توګه وټاکل شو.

**د جنرال کياني لپاره بله ستره بدنامي د پاکستان په ايبټ‌آباد کې د اسامه بن لادن وژل وو** چې د ۲۰۱۱ز. کال د مۍ په ۲مه، شپه مهال د امريکايي استخباراتو او ځانګړو ځواکونو لهخوا په داسې حال کې ووژل شو چې شاوخوا ۴۰ دقيقه د اسامه پر کور عمليات روان وو او دوه امريکايي چورلکو له ۳ ساعتونو زياته موده د پاکستان پر فضا، د تګ‌راتګ الوتنې کړې وې **خو د پاکستان پوځ او د پوځ مشر جنرال کياني په خوب ويده وو.** هغه وو چې «د امريکا د لوی درستيزانو د کميټې مشر (مايک مولن) د عملياتو له ترسره کېدو وروسته جنرال کياني ته ټليفون وکړ او د اسامه د وژل کېدو يې خبر کړ.»[14]

نېټه:۱۴۰۵/۶/۱۲ل. ل

**نور بيا**

[د ښاغلی محمد انور اڅړ نوري ليکني په دی لينک کی ولولی.]

13: https://www.nytimes.com/2011/06/16/world/asia/16pakistan.html
14: https://www.bbc.com/pashto/articles/c98rerd342eo


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ